# د دوو کرمو څادرو والا

پښتو

شيخِ طريقت، امير اهلسنّت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

**محمّد الياس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العاليه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دعا

ديني کتاب يا اسلامي سبق لوستلو نه مخکښې دا لاندي دُعا لولئ

اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چې لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَیْنَا حِکْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَیْنَا رَحْمَتَكَ یَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَام

**ترجمه**: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او حِکمت دروازے برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

طلب غم
مدینہ بقیع
ومغفرت

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

د رسالے نوم: د دوو کرمو خادرو والا

اول ځل: ............................................

تعداد: ......................

## مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالے چاپ کولو اجازت نشته

### کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَکْتَبَةُالْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# د دوَو ګرمو څادرو والا

شیخ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله ''**دوگُدڑیوں والا**'' په اردو ژبه کښې لیکلي ده.

**مجلِسِ تراجِم** (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمے، زیاتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه **مجلِس تراجِم** ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلِسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

**برائے رابطه:**


عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینه کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

دا مضمون د امیرِ اَهلِسُنَّت د کتاب "غیبت کی تباہ کاریاں" صفحه 334 تا 355 نه اخستے شوے دے

# د دوو کرمو خادرو والا

**دُعائے عطار:** یاربَّ المُصطفٰي! چې څوک هم دا رساله "د دوو کرمو خادرو والا" اولولي یا ئې واوري، هغه ته همیشه د نیکۍ کولو، نورو ته د نیکۍ د دعوت ورکولو، ګناهونو نه د بچ اوسیدلو او نور خلق د ګناه نه د بچ کولو سعادت نصیب کړې او بےحسابه بخښنه ئې نصیب کړې. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

## د درود شریف فضیلت

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په ما باندې د جُمُعے په ورځ درود شریف لولي زه به په ورځ د قیامت د هغه شفاعت کووم.

(جمع الجوامع للسیوطی، 7/199، حدیث: 22352)

## (23) د یو ځل غیبت کولو په سبب بےهوشه شولو

حضرت سیدنا **داؤد** طائي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په یو مقام تیریدلو نو بےهوشه شولو. کله چې په هوش کښې راغلو نو خلقو ترینه د بےهوشۍ د سبب تپوس اوکړو: اوئې فرمائیل: دلته چې راورَسیدم نو ناڅاپه رایاد شو چې په دې مقام باندې ما د یو کس غیبت کړے وو لِهٰذا ماته د **الله** پاک د عذاب او د آخرت د حساب خیال راغے نو د دې ویرې نه بےهوشه شوم. (نزهة المجالس، 1/199)

## په ورځ د قیامت د خبنتي او تار مطالبه

اے عاشقان اولیا! زمونږ د بزرګانو د **الله** پاک نه ویره مرحبا! د یوے ګناه نه د څو څو ځله توبه کولو باوجود ئې د **الله** پاک نه ویره نه ختمیږي، د زړه نه ئې پښیماني نه لرې کیږي، او زمونږ حال دا دے چې د ګناه کولو نه پس په خندا خندا هسې غوږونو له لاس وروړو او په زړه کښې خوشحاله شو چې [توبه مو اوکړه او] د

ګناهونو نه پاک شو او بیا هغه ګناه داسې هيره کړو لکه هډو چې کړې مو نه وي او په خپلو مستیانو کښې اخته شو! آه! د قیامت حساب! قسم په خُدائے! بالخصوص د حقوق العباد معامله خو انتهائي تشویشناکه ده لکه څنګه چې حَسنِ بصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: په قیامت کښې به یو کس د خپل حق وصولولو د پاره د بل کس لاس اونیسي نو هغه بل کس به ورته وائي: زه تا نهٔ پیژنم، ته څوک ئې؟ هغه به ورته وائي: تا زما د دیوال نه یوه خښته وښکلې وه او تا زما د کپړو نه یو تار اوښکلے وو. (په دې سبب زه خپل حق وصولولو د پاره په تا باندې دعویٰ کووم) (احیاءالعلوم، 5/99)

## د خلوینبتو کالو نه ژاړم

په هُم دې وجه به زمونږ بزرګانِ دین رَحِمَهُمُاللهُتَعَالٰی په ظاهره معمولي ښکاره کیدونکو حقونو نه هم ډیر زیات ویریدل. حضرت سیدنا کَهمَس رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: زه د یوے ګناه په سبب د څلوینبتو کالو نه ژاړم. چا ترینه تپوس اوکړو: یا سیدي! هغه کومه ګناه ده؟ اوئې فرمائیل: یو ځل مې د میلمه د پاره مهے اخستے وو، بیا د هغې د خوړلو نه پس مې د لاسو وینځلو د پاره د خپل ګاونډي د دیوال نه بے اجازته د خاورې یوه ټکړه اخستې وه. (رساله قشیریه، ص149)

بڑی کوششیں کی گنہ چھوڑنے کی رہے آہ! ناکام ہم یاالٰہی
زمیں بوجھ سے میرے پھٹتی نہیں ہے یہ تیرا ہی تو ہے کرم یاالٰہی
(وسائل بخشش، ص110)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (24) د غیبت کوونکي عزت ختمیږي

د یو دانا (عقلمند) په مخکښې یو پیژندګلو والا کس د بل مسلمان غیبت اوکړو، هغه عقلمند اوونیل: اے بنده! مخکښې زما زړهٔ فارِغ وو، اوس تا د غیبت په ذریعه زما زړهٔ د هغه مسلمان د عیبونو متعلق په وسوسو او نفرتونو کښې مشغوله کړو او هغه مسلمان دِ زما په نظر کښې د سپک ښکاره کولو کوشش اوکړو او دغه

شان ته هم زما په نزد ”ګنده“ شوې، (ځکه چې ما دا ګنړله چې ته امين (يعني امانت دار) ئې او خبره نه پټوې، اوس چې تا د هغه عيب ښکاره کړو نو معلومه شوه چې ته امين نه ئې ستا په زړهٔ کښې کومه خبره نه پاتې کيږي.) (تنبيه الغافلين، ص92 مأخوذا)

## (25) د ماضي ياد.... دوه نابِينا کسان

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! واقعي غيبت کوونکے ځان بخپله ګنده کوي او ذليله کيږي. خلق د غيبت عادت لرونکو نه ډډه کوي، کرکه ترينه کوي او ځان ترينه ساتي. د خپلې هلکوانے د کمزورو يادونو نه د دوو نابينا کسانو تذکره کووم. يو نابِينا د پوره ګِيرې والا، د قرآن پاک ډير پوخ حافظ او د مذهبي شکل و شان کس وو خو خبرې او غيبتونه به ئې ډير زيات کول، خوک به ئې هم نه پريښودل، ما (يعني سګِ مدينه عُفِیَ عَنۡهُ) به د هغه نه ډيره ډډه کوله. دوئيم نابينا کس ګيره خرئيلے وو يا ئې وړه شان ګيره پريښودې وه او يو عام کس وو، په هغه کښې دا صِفَت وو چې بالکل خاموش طبعيت والا وو د هغه نوم هم ماته نه دے معلوم، ما کله هم د هغه د خُلې نه د چا غيبت نه دے اوريدلے، ما ته ډير ځله د لـمانځه نه پس د هغه کونټې نيولې هغه د هغه کور ته د بوتللو موقع ملاو شوې ده. اوس د نابينا د بوتللو فضيلت هم ملاحظه کړئ.

## نابِينا څلويښت قدم بوتللو فضيلت

د عاشقان رسول ديني تحريک، دعوت اسلامي د مَکْتَبَةُالْمَدِيْنه کتاب، ”بہشت کی کُنجیاں“ (244 صَفحات) صفحه 226 کښې دي: د حضرت سَيِّدُنا انس رضی اللہ عنہ نه روايت دے: چې څوک يو نابِينا کس د لاسه اونيسي او څلويښت قدمه ئې بوځي د هغه مخ به د جهنم اور نه مَس کوي. (تاريخ مدينة،3/48)

## د نابِينا کس بوتللو طريقه

يو بل روايت هم ملاحظه کړئ چنانچه! د حضرت سَيِّدُنا ابو هُريره رضی اللہ عنہ نه روايت

دے چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې يو نابِينا د يو ميله پورې بوتلو نو هغه ته به د ميل د هر ذِراع (يعني ګز) بدله کښې د يو غلام آزادولو ثواب ملاويږي. چې کله تاسو نابِينا کس بوځئ نو د هغۀ ګځ لاس په خپل ښي لاس کښې اونيسئ چې دا هم صدقه ده. (فردوس الاخبار، 350/5، حديث:8397)

## د غلام آزادولو فضيلت

اے عاشقان رسول! د الله پاک د رحمتونو نه قربان! چې هغه زمونږ د پاره ثواب ګټل څومره آسان کړي دي. غلام آزادولو باندې څه ثواب ملاويږي په دې باره کښې ډير زيات روايات دي، الله پاک چې اوغواړي نو په خپل فضل و کرم به نابِينا کس لاس نيولے بوتللو باندې هغه ټول ثوابونه ورکړي. د ترغيب د پاره يو حديثِ پاک بيانووم چنانچه زمونږ ګناهګارانو شفاعت کوونکے خوږ آقائے کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "څوک چې مسلمان غلام آزاد کړي، الله پاک به د هغه غلام د هر اندام په بدله کښې د هغه (آزاد کوونکي) هر اندام د جهنم نه آزاد کړي." حضرت سعيد بن مرجانه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما چې کله د حضرت زَينُ العابِدِين رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په خدمت عاليه کښې دا حديثِ پاک واورلو نو هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپل يو داسې غلام آزاد کړو چې د هغه حضرت عبدالله بن جعفر رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا لس زره درهمه قيمت لګولے وو! (بخاری، 150/2، حديث:2517)

کچھ ایسا کر دے مرے کِردگار آنکھوں میں ہمیشہ نقش رہے رُوئے یار آنکھوں میں
نہ کیسے یہ گُل وغنچے ہوں خوار آنکھوں میں بسے ہوئے مدینے کے خار آنکھوں میں

(سامانِ بخشش، ص145)

## (26) د مدني چينل په برکت د غيبت نه پرهيز

د حيدر آباد (پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان څه داسے دے چې زمونږ د کور کسانو د عاشقان رسول ديني تحريک، دعوت اسلامي سل فيصده اسلامي چينل يعني د سنتو ډک مدني چينل باندې "د غيبت تباهيانو" په موضوع باندې د يو مُبَلِّغ دعوت اسلامي بيان واوريدو چې په هغې کښې هغوئي په معاشره کښې د وئيلو والا د غيبت د الفاظو طرف ته

توجه ورکوله. اَلْحَمْدُلِلّٰه دا بيان مو چې واوريدو نو د غيبت نه د بچ کيدلو ډير ذهن مو جوړ شو. يو ځل ما په کور کښې اووئيل چې ”وړوکے ورور مې فلانکي څيز پسې تلے وو تر اوسه پورې بيرته واپس نه دے راغلے، ډير سست دے.“ نو زما والدې محترمې فوراً زما ګرفت اوکړو چې دا خو تا د هغه غيبت اوکړو ځکه چې تا هغه ته په ”ډير سُست“ وئيلو باندې د هغه بدي بيان کړه! چنانچه ما فوراً توبه اوکړه. اوس د کور د کسانو دا حال دے چې په خبره خبره د يو بل دې طرف ته تَوَجُّه ورکوي چې اوس کومه خبره اوشوه يا فلانکے لفظ اووئيلے شو دا چرته غيبت خو نه دے!

گناہوں سے مجھ کو بچا یاالٰہی　　بُری عادتیں بھی چُھڑا یاالٰہی

(وسائلِ بخشش، ص100)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوْا اِلَى الله! 　　اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (27) ”هغه د مړي په شان اُوده دے“ وئيل

حضرت سَيِّدُنا شيخ سعدي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زه به د ډير وړوکوالي نه د شپے پاخيدم او عبادت به مې کولو. يو ځل مې ټوله شپه د خپل والد صاحب سره په عبادت کښې تيره کړه او مسلسل مې د قرآن تلاوت کولو. يو څو کسان زمونږ په خوا کښې مزے سره اُوده وو. ما والد محترم ته اووئيل : په دوئي کښې يو کس هم داسې نشته چې پاځي او د (تَهَجُّد) دوه رکعته لمونځ اوکړي، دا خو د مړو په شان اُوده پراته دي! والد محترم راته اووئيل: ځويه! که ته د عبادت کولو په ځائے ټوله شپه اوده وے نو هُم هغه بهتره وه ځکه چې ته د ويښ پاتي کيدو په وجه د غيبت په شان آفت کښې ګرفتار شوې. (تفسير روح البيان، 9/89)

## ”غيبت لويه ګناه ده“ د ښوارلسو حروفو په نسبت

## د نفلي کارونو په باره کښې ښوارلس مثالونه

اے عاشقانِ رسول! د دې حکايت نه معلومه شوه چې د تهجّدو وغيره نفلي عبادتونو نه غافله پاتې ټوله شپه اوده اوسيدل د هغه کس په حق کښې بهتر دي کوم کس چې ټوله شپه عبادت اوکړي خو د غيبت په شان آفت کښې ګرفتار شي. تَهَجُّد و نوافل ادا کول بيشکه د ثواب کار دے خو غيبت کوونکے د عذاب حقدار دے. دې حکايت کښې د هغه کسانو د پاره ډير مدني ګلونه موجود دي څوک چې بغير د حاجتِ شرعي نه داسې غيبتونه کوي مثلاً ☆فلانکے د اشراق او څاښت لمُونځ نه کوي☆ د هغه د راويښولو ډير کوشش مې اوکړو خو د سحر (يا د تَهَجُّد) لـمونځ له پانځيدو، بس☆ د مرې په شان اُوده پروت وو ☆ د جَمعې د لـمونځ پابندي نه کوي ☆ د ګل د ورځې روژه نه نِيسي کله چې هم د اجتماع دعوت ورکړم نو ”څه بهانه جوړه کړي“ ☆ ”نيک اعمال“ باندې عمل کولو کښې سُست دے ☆ اجتماع ته ناوخته راځي يا ☆ بهر په بستو [اِستالونو] باندې ګرځي ☆ يا هوټل کښې کښيني ☆ يا ملګرو سره خبرې کوي ☆ مدني مشوره کښې هميشه ناوخته راځي ☆ کله هم مدني قافله کښې سفر نه کوي او چې پوهه کوے ئې نو د دروغو بهانے کوي.

## (28) بدي کوونکي سره د نيکۍ کولو عجيبه حکايت

يو کس به د حضرت سَيِّدُنا سلطانُ المَشايخ خواجه محبوبِ اِلٰهي نظام الدين اوليا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير غيبتونه کول او په هغوئي باندې به ئې قسماقسم تهمتونه لګول. د دې باوجود به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغه کس کور ته هره ورځ څه نه څه د خرچے د پاره ورليږل، د ډير وخته پورې دا سلسله چليدله، يوه ورځ ورته ښځې د غيرت ورکولو د پاره اووئيل چې: دستور خو دا دے چې څوک درسره ښه کوي هغه به ښه يادوے، خو دا څنګه انصاف دے چې د چا خوړل هم هغه ته غَريدل! ته هم عجيبه سړے ئې چې په يو داسې بزرګ پسې لګيدلے ئې چې بغير د سوال نه ستا بچي ساتي! د ښځې خبرې ئې چې واوريدې نو هغه شرمنده شو او

غيبتونه او تهمتونه ئي پريښودل. د هم هغه ورځې نه خواجه نظام الدين اوليا رحمۃ اللہ علیہ خرچه ورليږل هم بند کړل. هغه دربار ته حاضر شو او عرض ئي اوکړو: چې محترمه! په دې کښې څه حکمت دے چې ترڅو مې په تاسو پسې بدې ردې وئيلې نو [ستاسو له طرفه] په ما باندې د انعاماتو او اکراماتو باران وو خو چې څنګه مې بدې ردې وئيل پريښودل نو [ستاسو] عنايات او نوازشات راباندې بند شو! ارشاد ئې اوفرمائيل: ترڅو پورې چې تا زما عزت خرابولو نو ستا له طرفه ماته نيکئ ملاويدې او خطاګانې مې معاف کيدلې، نو په هغه ورځو کښې ګويا چې ته زما مزدور وې. لِـهذا ما تاته د نيکئ راليږلو او خطاګانو معاف کيدلو اُجرت درکولو، خو چې اوس تا دا کار بند کړو نو بيا زه اُجرت [يعنې مزدورې] د څه درکړم! (سبع سنابل، ص59ملخصا) د اللّٰه پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

گناه گار ہوں میں لائقِ جہنّم ہوں کرم سے بخش دے مجھ کو نہ دے سزا یارب
بُرائیوں پہ پشیماں ہوں رَحم فرمادے ہے تیرے قہر پہ حاوی تری عطا یارب
(وسائلِ بخشش، ص78)

## د کانړي د ګزار جواب د ناياب ګوهر په ذريعه

اے عاشقانِ اوليا! د حضرت سَيِّدُنا سلطان المَشائخ خواجه محبوب الٰهي نظام الدين اوليا رحمۃ اللہ علیہ په ذِکر شوې حکايت کښې دا مدني ګل هُم ډير خوشبوداره دے چې اهلُ اللّٰه د کانړي د ګُزار جواب په کانړي نه بلکه د "ناياب ګوهر" په ذريعه ورکوي! اللّٰه والا خلق بدې د بدئ په ذريعه نه بلکه د ښيګړې په ذريعه لرې کوي او هغوئي به داسې ولي نه کوي چې په سيپاره 24 سُوْرَۃُ حٰمٓ السَّجۡدَۃ آيتِ کريمه 34 کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِدۡفَعۡ بِالَّتِیۡ ہِیَ اَحۡسَنُ فَاِذَا الَّذِیۡ بَیۡنَکَ وَ بَیۡنَہٗ عَدَاوَۃٌ کَاَنَّہٗ وَلِیٌّ حَمِیۡمٌ ﴿۳۴﴾ | [مَفهوم] ترجَمهٔ کنزُالایمان: اے اوريدونکيه! بدې د نيکئ په ذريعه لرې کړه، هله به هغه چې په تا کښې او په هغه کښې دُښمني وه داسې شي لکه پوخ دوست. |

## د حُسنِ سُلُوک نتیجه

صدرالافاضل حضرت علامه مولانا سید نعیم الدین مراد آبادي رحمۃُ اللہِ علیہ په "خَزائِنُ العِرفان شریف" کښې بدي د نیکۍ په ذریعه د لرې کولو طریقه ارشاد فرمائي: مثلاً غصه په صبر، جَهل په حِلم، بدسلوکي په عفو (و درګزر) یعني که څوک تا سره بدي اوکړي نو معاف ئي کړه. د دې خصلت نتیجه به دا وي چې دښمنان به درسره د دوستانو په شان مینه کول شروع کړي.

شانِ نزول: وئیلے شوي دي چې دا آیت د اَبُوسفیان په حق کښې نازل شو چې باوجود د دې نه چې د هغوئي د سختې دښمنۍ باوجود نبي کریم صَلَّی اللہُ علیہِ وآلہٖ وسلَّم هغوئي سره نیک سلوک اوفرمائیلو، د هغوئي لُور صاحبې رضی اللہُ عنہا ته ئي د خپل زوجیت شرف ورکړو، د دې نتیجه دا اوشوه چې هغوئي رښتینے مُحبَّت کوونکے جان نثار جوړ شو. (خزائن العرفان، ص884)

## (29) حمله کوونکي سره د حیرانتیا سلوک

د بدۍ بدله په نیکۍ سره د ورکولو په ضِمن کښې یو عجیبه حکایت ملاحظه کړئ چنانچه یو کس د حضرت شیخ نصیر الدین محمود بن یوسف رشید اودهي رحمۃُ اللہِ علیہ آستانه عالیه (دهلي) ته داخل شو او د چړې پینځلَس یا وولَس ګزاره ئي پرې اوکړل او سخت ئي زخمي کړو. هغوئي د کمال صبر مظاهره اوکړه او حمله کوونکي ته ئي اوفرمائیل: فوراً دننه طرف ته کوټه کښې پټ شه ګني که خلق راورسیدل نو شاید چې تا ژوندے پرې نَږدي، هغه پټ شو. خلقو ډیر اُولټوو خو د حمله کوونکي څه پته اونه لګیده، په نیمه شپه چې هغوئي ته موقع ملاو شوه نو حمله کوونکے ئي د هغه ځائے نه رخصت کړو. (سبع سنابل، ص64ملخصاً) د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ علیہِ وآلہٖ وسلَّم

سُبْحٰنَ الله د اولیاءالله څنګه اوچت مقام وي! هغوئي پسې که څوک بدې ردې وائي نو هغه سره بلکه د خپل سر دُښمنانو سره هم حُسنِ سلوک کوي، چا رښتیا وئیلي دي:

بدی را بدی سَہل باشَد جَزا  اگر مردی اَحسن اِلٰی مَن اَسا

(يعني د بدئ بدله د بدئ په ذريعه ورکول آسان دي، خو که ته سړے ئې نو د بدئ کوونکي سره هم نيکي اوکړه)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# (30) د دوو ګرمو خادرو والا

د عاشقان رسول ديني تحريک دعوت اسلامي د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه کتاب، ''عُيُونُ الحکايات'' (413 صفحات) حصه دُوُم صفحه 18 کښې دي چې: حضرت سَيِّدُنا ابراهيم آجُرِي کبير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د يخنئ ورځې وې زه د جمات په دروازه کښې ناست ووم چې په خواه مې نزدے يو کس تير شو چې دوه ګرم خادرونه ئې اچولي وو. زما په زړهٔ کښې خبره راغله چې کيدے شي دا سوالګر وي، ځومره به ښهٔ وے چې که دهٔ په خپلو لاسو ګټلے او خوړلے. کله چې زه اُوده شوم نو په خوب کښې دوه فرښتے راغلې او زه ئې د لاسه اونيولم او هُم هغه جمات ته ئې بوتلم. هلته يو کس دوه ګرم خادرونه اغوستي وو او اُوده وو کله چې د هغه د مخ نه خادر لرې کړے شو او ما اوليدلو نو زه حيران پاتې شوم چې دا خو هُم هغه کس دے کوم چې زما په خواه تير شوے وو! فرښتو ماته اووئيل: ''د دهٔ غوښه اوخوره.'' ما اووئيل: ما د دهٔ څه غيبت خو نه دے کړے. هغوئي اُووئيل: ولے نه! تا په زړه کښې د دهٔ غيبت کړے وو، دے دِ سپک ګڼړلے وو او د دهٔ نه [په زړه کښې] خفه شوے وې.'' حضرت سَيِّدُنا ابراهيم آجُرِي کبير رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې بيا زما سترګې اُوغړيدلې، د ويرې نه مې بدن په لړزان وو، بيا زه مسلسل ديرش ورځې د هغه جمات په دروازه کښې ناست اوسيدم، صرف د فرض لمونځ د پاره به پاځيدم او دعا به مې کوله چې يو ځل بيا هغه کس اُووِينم چې معافي ترينه اُوغوارم. يوه مياشت پس مې هغه عجيبه کس بيا اوليدو، د مخکښې په شان د هغه په بدن باندې دوه ګرم خادرونه وو. زه فوراً د هغه طرف ته ورمخکښې شوم، زه ئې چې اوليدم نو هغه تيز تيز روان شو، زه هم ورپسے روان شوم. آخر ما هغه ته آواز اوکړو چې: ''اے د الله پاک بنده! زه تا سره څه خبره کول غواړم.'' هغه اووئيل: اے ابراهيمه! آيا ته هم د هغه خلقو نه ئې چې په زړهٔ کښې دننه د مؤمنانو غيبت کوي؟ د

هغه د خُلي نه مې چې په خپله باره کښې د غيبت خبر واوريدو نو زه بےهوشه شوم او راپريوتم. کله چې په هوش کښې راغلم نو هغه زما سر ته ولاړ وو. هغه اوونيل: آيا بيا به داسې کوې؟ ما اوونيل: نه، بيا به کله هم داسې نه کووم." بيا هغه عجيبه کس زما د نظر نه غائب شو او بيا مې کله هُم اُونه ليدو. (عيون الحکايات، ص212)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## بدګماني هم غيبت دے

اے عاشقان رسول! د دې حکايت نه مونږ ته د عبرت بيشميره مدني ګلونه حاصل شو، د دې نه دا هم معلومه شوه چې د چا په باره کښې بدګماني کول هم غيبت دے. يعني د ښکاره دليل نه بغير د چا په باره کښې په زړهٔ کښې بدي قائمول چې آؤ هغه هُم داسې دے، دې ته بدګماني وائي او دا غيبةُ الْقَلب يعني د زړهٔ غيبت دے. خوک په ساده لباس وغيره کښې د ليدلو په وجه هغه سپک ګنړل او سوال کوونکے فقير ګنړل ډيره لويه غلطي ده. څه پته ده چې مونږ خوک سپک ګنړو هغه خوک پټ وَلِيُّ الله وي. لکه څنګه چې د دې ذِکر شوي حکايت نه معلومه شوه چې هغه ګرمو خادرو والا کس عام کس نه وو بلکه د الله پاک يو ولي وو!

نہ پوچھ ان خِرقہ پوشوں کو عقیدت ہو تو دیکھ انکو      یدِ بَیضا لئے پھرتے ہیں اپنی آستینوں میں

[د شعر مفهوم يعني دا زوړ او پيوند لګيدلے لباس اغوستي خلق، په دوئي کښې بعضې د الله لوئ لوئ وليان وي څکه دوئي ته په سپک نظر نه بلکه د عقيدت په سترګه کتل پکار دي.]

## (31) پُراَسراره [يعني ډير عجيبه] حبشي

د ذکر شوي حکايت په شان يو بل ايمان افروزه حکايت ملاحظه کړئ چنانچه نقل شوې دي چې: حضرت سَيِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه انتهائي ساده مِزاجه او عاجز طبعيته وو. هر کس به ئې د خپل ځان نه ښه ګنړلو. يوه ورځ ئې د دريائے دِجله په غاړه يو حبشي اوليدو چې د شرابو بوتل او يوه زنانه ورسره ده، هغوئي په زړهٔ کښې اوونيل: آيا دا شرابي حبشي هم

زما نه غوره کيدے شي! په دې دوران کښې يوه کشتۍ تيره شوه چې په هغې کښې ووه کسان ناست وو، ناڅاپه هغه په اوبو کښې ډُوبه شوه او ووه واړه کسان ډوب شول. دا ئې چې اوليدل نو حبشي درياب ته ورټوپ کړو او يو يو ئې راويستلو، شپږ کسان ئې بهر راوِيستل، بيا ئې ماته اووئيل: ووم کس تاسو را اُوباسئ، ما خو ستاسو امتحان اخستلو چې تاسو صاحبِ باطن هم ئې او که نه! دا هم واورئ چې دا زنانه بل څوک نه ده زما مور صاحبه ده او په بوتل کښې شراب نه بلکه ساده اوبه دي. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پوهه شولو چې دا حبشي څوک عام سړے نه دے بلکه زما د اصلاح د پاره راغلې يوه هستي ده. لِـهٰذا حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغوئي احترام اوکړو او د دعا درخواست ئې ورته اوکړو، هغوئي دعا اوکړه: **الله** پاک دِ تاسو ته نورِ بصيرت (د زړۀ د نظر نُور) درکړي. د هغې نه پس بيا هيڅ کله هم هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل ځان د چا نه غوره نه دے ګڼړلے تر دې پورې چې يو ځل ترينه چا تپوس اوکړو چې سپے بهتر دے که تاسو؟ هغوئي اوفرمائيل: که د عذاب نه بچ شوم نو زه بهتر يم ګني سپے زما په شان سوونو ګنهګارو نه بهتر دے. (تذکرۃ الاولیاء حصه:1،ص43ماخوذا)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! معلومه شوه چې د يو مسلمان په باره کښې فوراً غلطه رائے قائمول نه دي پکار، ځکه چې مونږ ته څه معلومه ده چې د **الله** پاک په بارګاه کښې د چا مقام څه دے!

نظرِ کرم خدارا میرے سیاہ دِل پر — بن جائے گا یہ دم بھر میں بے بہا نگینہ

(وسائلِ بخشش،ص190)

## (32)حبشي چې ښنګه دعا اوغوښتله

اے عاشقانِ اوليا! معلومه شوه چې هغه حبشي څوک رسيدلے بزرګ وو. لِـهٰذا د چا په ښکاره شکل و صورت او لباس وغيره ليدلو باندې چا ته سپک نظر کول نه دي پکار. حُجَّةُ الْاِسلام حضرت امام محمدبن محمد غزالی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يو کال په مدينه منوره

کښې قحط راغے خلق ډیر غمژن وو، یوه ورځ د مدینے خلق د اِستِسقاء د لمُونځ (یعني د باران د سوال کولو د پاره) اووتل او حضرت عبدالله بن مبارک رحمۃُاللہِعلیہ هم ورسره وو، ټولو خلقو په ژړا ژړا دُعا غوښتل شروع کړه، د یو چا دعا هُم نه قبلیدله، په دې کښې یو حبشي چې دوه څادرې ئې اچولي وې راغے او د **الله** پاک په بارګاه کښې داسې عرض ګزار شو: "اِلٰـهی ! مونږ ګنهګار یُو تا مونږ ته د ادب ښودلو د پاره اوبه حصارې کړې دي، یا **الله**! په خپل رحمت سره اُوس په هُم دې ساعت اوبۀ را اُووَروې، اُوس په هُم دې ساعت اوبۀ را اُووَروې، اُوس په هُم دې ساعت اوبۀ را اُووَروې." فوراً درنه وریځ راغله، او د رحمت باران وریدل شروع شو.

حضرت عبدالله بن مبارک رحمۃُاللہِعلیہ د هغه ځائے نه د حضرت فُضَیل بن عِیاض رحمۃُاللہِعلیہ خواه ته راغلو، هغوئي ورته اوفرمائیل: څه وجه ده چې تاسو خفه ښکارئ؟ هغوئي ورته د حبشي د دُعا او د باران واﻻ واقعه واوروله، دا ئې چې واوریدل نو حضرت فُضیل بن عیاض رحمۃُاللہِعلیہ یوه چغه اووهله او بیهوشه شو او زمکې ته ئې تشریف راوړلو.

(احیاءالعلوم، 1/408، ماخوذا)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

محبت میں اپنی گما یاالٰہی     نہ پاؤں میں اپنا پتا یاالٰہی
ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ     میں تھر تھر رہوں کانپتا یاالٰہی

(وسائلِ بخشش، ص105)

## (33) نارینه اوﻻد ئې اوشو

د غیبت کولو او اوریدلو عادت ختمولو او د لمونځونو او سُنَّتو عادت جوړولو د پاره د دعوت اسلامي دِیني ماحول سره هر وخت وابسته اوسئ، د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره په مدني قافلو کښې عاشقان رسول سره د سُنَّتو ډک سفر کوئ او کامیاب ژوند تیرولو او د آخرت ښه کولو د پاره د "نیک اعمال" مطابق عمل کوئ او روزانه د [خپلو اعمالو د] جائزے په ذریعه په رساله کښې خانے ډکوئ او د هرې میاشتې په یکم تاریخ ئې

خپل ذمه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ. په مدني قافله کښې د سفر کولو د نِيَّت هم څه ښکلے مدني سپرلے دے! د يو اسلامي ورور د ورندار "اميد" وو. د الټرا ساؤنډ په ذريعه اووئيلے شو چې لور ده، مشر ورور ئې نِيَّت اوکړو چې که ځوئ مې اوشو نو د دعوت اسلامي د عاشقان رسول د سنتو د تربيت د درې ورځو مدني قافله کښې به سفر کووم. اَلْحَمْدُلِلّٰه د هغوئي په کور کښې ځوئ پيدا شو.

نیک اولاد کی، داد فریاد کی خاطر آؤ چلیں، قافِلے میں چلو
قلب بھی شاد ہو، گھر بھی آباد ہو شادیاں بھی رچیں، قافِلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## چې څومره زيات نِيَّتونه، هغه همره زيات ثوابونه

اے عاشقان رسول! مَاشَآءَاللّٰه ښه نِيَّت او هغه هم په مدني قافله کښې د سفر کولو سُبْحٰنَ الله! د دې هم څه ښکلې برکتونه دي چې اَلْحَمْدُلِلّٰه نارينه اولاد ئې نصيب شو! دا ذهن کښې ساتئ چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به په ثواب کښې هُم اضافه کيږي لِـهٰذا د کوم جائز مقصد حاصلولو د نِيَّت سره د آخرت د ثواب نِيَّت هيرول نه دي پکار. مثلاً که صرف د اولاد حاصلولو په نِيَّت مو مدني قافله کښې سفر اوکړو نو مدني قافله کښې د سفر کولو ثواب به نه ملاويږي. او که د ثواب نِيَّت مو هم کړے وو نو که اولاد ملاو نه شو نو بيا به هُم اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيْم ثواب ضرور کيږي. ځنګه چې په سيپاره 13 سُوْرَةُ يُوْسُف آيت 56 کښې د الله پاک ارشادِ پاک دے.

| | |
|---|---|
| وَلَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۶﴾<br>(پ13، يوسف:۵۶) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُالایمان: او مونږه د نيکانو اجر نه ضائع کوو. |

## (34) غيبت کوونکي ته تحفه

حضرت سَيِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته چا اووئيل چې فلانکي ستاسو غيبت

کړے دے نو هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هغه غيبت کوونکي ته د کجورو يو غټ تال ډک ور اوليږو او ورسره ئې دا پيغام هُم ور وليږو چې ما اوريدلي دي چې تا ماته خپلې نيکئ هَدِيّه کړې دي نو ما د هغې بدله درکول بهتره اوګڼڼله، ځکه کجورې حاضرې دي. (منهاج العابدين، ص65)

د الله پاک دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږ بے حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## غيبت کوونکي ته دعائے خير اوکړئ

اے عاشقان اوليا! تاسو اوکتل! د اوليائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د نيکئ د دعوت انداز به خومره ښکلے او عجيبه وو، کله چې د زمانے د ولي له طرفه غيبت کوونکي ته د غيبت په بدله کښې د کجورو تال رسيدلے وي نو هغه به خومره متاثره شوے وي! او دا هم حقيقت دے چې د چا غيبت اوشي هغه فائده کښې وي ځکه چې چا غيبت کړے وي د هغه نيکئ د دهٔ (يعني د چا چې غيبت اوشو) نامهٔ اعمال ته منتقل شي او خوک چې ګويا نيکئ په تحفه کښې راکړي هغه يو قِسم زمونږ خير خواه يعني ښيګړه کوونکے شو. لِهٰذا هغه سره د اِنبښتلو په ځائے د هغه په حق کښې دعائے خير کول پکار دي.

جو غيبت سے چغلی سے رہتا ہے بچ کر   ميں ديتا ہوں اُس کو دعائے مدينہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (35) د عطرو شيشه تحفه کول

د يو مُبَلِّغ دعوت اسلامي څه داسې بيان دے چې: ماته خبر اوشو چې فلانکے صاحب زما خلاف خلقو ته غيبت کړے دے، ماته د حضرت حسن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ حکايت معلوم وو (کوم چې اوس ذکر شو) لِهٰذا د هغوئي د پيروئ په نيت ما هغه صاحب ته د "عطرو شيشه" په تحفه کښې وراوليږله او د چا په ذريعه چې مې چې وراوليږله هغه ته مې درخواست اوکړو چې د تحفے ورليږلو سبب ورته بيان کړئ او د هغه تَفهِيم اوکړئ يعني د پوهه کولو ترکيب ئې جوړ کړئ، خبره اوشوه او تيره شوه. يو ځل مونږ يو څو اسلامي

وروڼره اتفاقاً د هغه غيبت و مخالفت کوونکي صاحب د دوکان په خوا تيريدلو، چې مونږه ئي اُوليدلو نو فوراً بهر راغلو، ډيره په ښه طريقه ئي راسره ملاقات اوکړو، د ميوو په جُوس يا بل يو شربت باندې ئي زمونږه ميلمستيا اوکړه او په خپل دوکان کښې ئي زما په ذريعه دعائے برکت اوکړه. لِلّٰهِ الْحَمْد.

تو پیچھے نہ ہٹنا کبھی اے پیارے مبلغ! شیطان کے ہر وار کو ناکام بنا دے

(وسائلِ بخشش، ص120)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ماشوم د مرګ نه بچ شو

د غيبت کولو او اوريدلو عادت ختمولو او د لمونځونو او سُنَّتو عادت جوړولو د پاره د دعوت اسلامي دِيني ماحول سره هر وخت وابسته اوسئ، د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په مدني قافلو کښې عاشقان رسول سره د سُنَّتو ډک سفر کوئ او کامياب ژوند تيرولو او د آخرت ښه کولو د پاره د "نيک اعمال" مطابق عمل کوئ او روزانه د [خپلو اعمالو د] جائزے په ذريعه په رساله کښې خانے ډکوئ او د هرې مياشتې په يکم تاريخ ئې خپل ذمه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ. د حيدر آباد د يو اسلامي وررور د پينځو مياشتو څوئ به مسلسل بيمار وو. د حيدر آباد په غټو غټو هسپتالونو کښې ئي تقريباً علاج کړے وو، چې کله ئي د جام شورو د هسپتال نه "ليور اسکين" اوکړو نو معلومه شوه چې د ماشوم يو "کنکشن" نِشته کوم چې د ځيګر نه کُولمو ته تلے وي. غټ ډاکټر اووئيل چې د دهٔ به آپريشن کيږي خو د دې د کاميابيدلو امکانات ډير کم دے. رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې هغه کراچۍ ته راووړسيدو او د آپريشن د پاره ئي خپل ماشوم څوئ په N.I.C.H اسپتال کښې داخل کړو د خيالي په ورځ د ماشوم آپريشن اوشو نو ډاکټرانو اووئيل چې د دهٔ خو کنکشن هم نشته، تريخے ئي هم نشته او ځيګر ئي هم ډير کمزورے دے چې صرف 25 فيصد

کار کوي، د دې ماشوم د بچ کیدلو امکان ډیر کم دے په دوئیمه هفته کښې د ماشوم دوئیم آپریشن طے شو، هغه اسلامي ورور د آپریشن نه یوه ورځ مخکښې یعني د جُمُعے په ورځ مدني قافله کښې عاشقان رسول سره د سنتو ډک سفر باندې روان شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه د مدني قافلے نه واپسئ کښې معلومه شوه چې د هغوئي د ماشوم آپریشن کامیاب شوے دے خو هغه ته پیځ نه شي ورکولے او په متیازو کښې ئې وینه هُم راتله. هغه په دوئیمه هفته بیا مدني قافله کښې په سفر روان شو اَلْحَمْدُلِلّٰه مدني قافله کښې د سفر په دوران کښې ورته د کور والؤ له طرفه فون راغے چې متیازو کښې ئې وینه راتلل هم بند شوي دي او پیځ خښل ئې هم شروع کړي دي. هغوئي د مدني قافلے نه د اتوار په ورځ واپس راغلل او اَلْحَمْدُلِلّٰه په دوئیمه ورځ یعني د ګل په ورځ هغوئي ته د هسپتال نه رخصت هم ملاو شو او خپل ماشوم ئې کورته بوتلو. اَلْحَمْدُلِلّٰه مدني قافله کښې د سفر کولو په برکت د هغوئي ماشوم بالکل ټیک شو **الله** پاک دِ د دعوت اسلامي دیني ماحول سلامت لري. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

بچّہ بیمار ہے، باپ بیزار ہے — غم کے سائے ڈھلیں، قافِلے میں چلو
غم چلے جائیں گے، دن بھلے آئیں گے — صبر سے کام لیں، قافِلے میں چلو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (37) د 15 کالو نه مریضې ایمان افروزه صحت یابي

اے عاشقان رسول! تاسو اولیدله چې! د مدني قافلے په برکت ناقصه ماشوم ژوندے هُم شو او صحت مند هم شو. دا ټولې د **الله** پاک د قدرت کرشمے دي، یقیناً په دعوت اسلامي باندې د ربُّ الاکرم بےانتها کرم دے. بیشکه که **الله** پاک اوغواړي چې هر څومره مشکله او لویه مسئله وي په یو ساعت کښې حل شي، په دې باره کښې یو ایمان افروزه حکایت واورئ او خوشحاله شئ چنانچه په بغداد شریف کښې

يوه عَلَوي[1] جينئ اوسيدله، هغه د پينځلسو کالو پورې شَلَه (يعني معذوره) وه، يوه شپه هغه اوده شوه او چې کله پاځيدله نو صحيح سلامت وه، بيا هغه پاځيدے او کښيناستے هُم شوه، د هغې نه په دې سلسله کښې تپوس اوشو نو هغې اووئيل: يوه شپه زما زړه سخت خفه شو، ما د الله پاک نه دعا اوغوښتله چې يا خو د دې مصيبت نه نجات راکړې يا مرګ راکړې او ډير مې اوژړل. په خوب کښې مې يو بزرګ اوليدو چې زما خواه ته ئې تشريف راوړے دے، زۀ اويَريدم، او ما اووئيل چې: آيا ستاسو زما خواه ته داسې راتلل جائز دي؟ هغوئي اوفرمائيل: زه ستا والد يم، ما دا ګمان اوکړو چې کيدے شي زما جَدِّ اعلٰی، حضرت اَمِيرُالْمُؤمِنِين عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی شيرِ خدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ دے، ما عرض اوکړو: يا اَمِيرَالْمُؤمِنِين! تاسو زما حالت نه وينئ؟ هغوئي اوفرمائيل: زه ستا والد مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يم. ما په ژړا کښې عرض اوکړو: يا رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د الله پاک نه زما د صحت د پاره دعا اوفرمائے، نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلو دواړو شونډو له حرکت ورکړو. بيا ئې اوفرمائيل: لاس راکړه، ما لاس ور وړاندې کړو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما لاس اونيولو او رائې ښکلو او زه ئې کښينولم، بيا ئې اوفرمائيل: د الله پاک نوم واخله او اودريږه ما عرض اوکړو: زه څنګه اودريږم زه خو معذوره يم! اوئې فرمائيل: خپل دواړه لاسونه راکړه، هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما دواړه لاسونه اونيول نو زه اودريدم، نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم درې ځله داسې اوکړل بيا ئې اوفرمائيل: اودريږده، الله پاک تا ته صحت و عافيت درکړو، ته د هغه حَمد کوه او د هغه نه تل ويريږه، بيا ئې زه پريښودم او تشريف ئې يوړو. کله چې راپاځيدم نو تندرسته ووم، د هغې دا واقعه په بغداد شريف کښې ډيره مشهوره شوه. (مصباح الظلام فی المستغيثين بخير الانام. ص153)

سرِ بالیں انہیں رحمت کی ادا لائی ہے    حال بگڑا ہے تو بیمار کی بن آئی ہے

---

[1] [عَلَوي د حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هغه اولاد ته وائي، کوم چې د حضرتِ فاطمه رَضِیَ اللہُ عَنۡہَا نه علاوه د هغوئي د نورو بيبيانو نه پيدا شوي اولاد په سلسله کښې شامل دي]

## (38) اُوګرږ د تور سرے

حضرت خالد رَبَعِي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي چې زه په جامع مسجد کښې ناست ووم چې بعضې خلقو د يو کس غيبت شروع کړو، ما هغوئي منع کړل نو هغوئي د غيبت نه منع شول او په څه بله موضوع باندې ئې خبرې شروع کړې، څه وخت پس ئې بيا د هغه کس خلاف خبرې شروع کړې، دا ځل زه هم په خبرو کښې شريک شوم، د شپې مې خوب اوليدو چې يو لوئے تور سړي په تال کښې د خِنزير د غوښې بوټئ راخستې ده او ما ته ئې اُووئيل: اُوخوره! ما اووئيل: زه... زه... زه ولې د "خنزير غوښه" اوخورم؟ په الله مې دِ قَسَم وي! زه ئې نه خورم. هغه زه په سختئ سره اورَټَلم او اوئې وئيل: تا د دې نه هم ګنده څيز خوړلے (يعني غيبت کړے) دے. دا ئې اووئيل او زه ئې د څټ نه اونيولم او د خنزير غوښه چې د هغې نه وينه بهيدله زما په خوله کښې ئې په زور راټومبل شروع کړه تر دې پورې چې زه بيدار شوم. په الله پاک مې دِ قَسَم وي! د ديرشو ورځو پورې ماته د هغې بدبو راتلله او ما به چې کله هم طعام خوړلو نو د هغې نه به مې په خُله کښې د خنزير د غوښې ذائقه محسوسوله.

(ذم الغيبة لابن ابي الدنيا، ص85، رقم:43)

## (39) امرد ته د کتلو وغيره سمدستي غيبي سزاګاني

اے عاشقان اوليا! دا بزرګ خوش نصيبه وو چې په دنيا کښې د خوب په ذريعه خبرداره کړے شو. آه! زمونږ به څه کيږي! افسوس مونږه خو معلومه نه ده چې د څومره کسانو غيبت کړے او اوريدلے دے. الله پاک دِ مونږ د دنيا او آخرت د ذلّت نه اُوساتي، بعضې وخت کښې داسې هم کيږي چې د ګناه کولو سره سمدستي سزا ورکړے شي او [د بنده] ښه ډيره رسوائي اوشي چنانچه د عاشقان رسول ديني تحريک دعوت اسلامي د مَکْتَبَةُ الْمَدِينه کتاب، "جہنم میں لے جانے والے اعمال" (853 صَفحات) په صفحه 646 کښې دي: بعضې خلقو اَمرد (يعني ښکلي هلک) ته په شهوت سره يا زنانه ته کتلي دي نو د هغوئي سترګې [راوتلي دي او] په مخ باندې ښکته رابهيدلي دي! بعضو

چې ځنګه خپل لاس د زنانه په لاس باندې کېښودے دے نو د دواړو لاسونه خپل مينځ کښې نښتي دي او ښه ډېره رسوائي ئې شوې ده، او خلق د هغوئي په جدا کولو کښې ناکامه شوي دي، تر دې پورې چې بعضې علمائے کرامو د هغوئي رهنمائي کړې ده چې د زړه د اِخلاصه توبه اوکړئ او عهد اوکړئ چې آئينده به داسې ګنده حرکت نه کوئ. کله چې هغوئي داسې اوکړل [يعنې توبه ئې اوکړه] نو اللّٰه پاک هغوئي [د دې مصيبت نه] خلاص کړل، د دې کتاب مُصَنِّف حضرت علامه اِبنِ حَجَر رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي: داسې زما يو پيژندګلو کس سره شوي وو چې ښائسته او ښکلو اندامونه والا وو، هغه چې ګناه اوکړه نو هُم په ځنګه مُقَدَّس ځائے کښې! په مسجدِ حرام کښې دننه او هغه هم د حَجرِ اسود سره په خواه کښې په هغه باندې شيطان غلبه اوکړه او هغه يوه زنانه ښکل کړه! د قهرِ الٰهي بجلي پرې راپريوته او د هغه ټول مخ مسخ شو (يعني وران) شو، تن بدن ئې بدشکله شو، عقل ئې کمزورے شو او آواز ئې هم خراب شو الغرض ټول د عبرت نمونه جوړ شو. مونږ د بےلارې کيدلو نه د اللّٰه پاک پناه غواړو او د اللّٰه پاک نه التجا کوو چې مونږ د مرګه پورې د ازميښتونو نه اوساتي، بےشکه هغه د ټولو نه زيات کريم و رحيم دے.

ګناهوں نے کہیں کا بھی نہ چھوڑا  کرم مجھ پر حبیبِ کبریا ہو
(وسائلِ بخشش،ص316)

## (40) د لِفټ پکے

اے عاشقانِ رسول! يقيناً د خپل خيز بدې اوريدل په چا هم ښه نه لګي، په دې باره کښې خپله يوه واقعه د تَصَرُّف سره ذِکر کووم چنانچه د سختې ګرمئ ورځې وې، مونږ يو څو اسلامي ورونړو د چا په کور کښې طعام اوخوړلو او را اُووَتلو او په لفټ کښې سوارۀ شو، ګرمه هوا محسوسه شوه، يو کس اووئيل چې پکے پکښې لګيدلے دے، دوئيم اووئيل: د فلانکي کرائيدار اسلامي ورور د بلډنګ لفټ خو

ائیرکنډیشنډ دے، په دې کښې زمونږ کوربه چې د دې فلیټ د یو کور کرائیدار وو هغه اووئیل: "دا عمارت ډیر زوړ دے." سګِ مدینه عُفِیَ عَنْهُ هغه دریم کس ته عرض اوکړو چې: دا راته اووائې چې ستاسو دا خبره چې "دا عمارت ډیر زوړ دے" د دې مکان مالک واوري نو هغه به خوشحاله شي که خفه؟ دا ئې چې واوریدل نو هغه پښیمانه شو چې واقعي که خبر شي زړه به ئې خفه شي. بیا زما د خبرې په توثیق کښې هغه خپله یوه واقعه واوروله چې زما سره یو زوړ موټر [کار] وو، یو ځل راته یو دوست اووئیل: "یار! دا کټاره" خو نور لرې کړه! په دې جمله باندې زما زړه ډیر زیات خفه شو او ما هغه موټر استعمالول پریښودل او د یو ملګري په ګیراج کښې مې اودرولو. ډیر وخت اوشو هم دغسې ولاړ دے، خرڅولو ته مې زړهٔ هُم نه کیږي ځکه چې هغې سره زما بعضې مُتَبَرّک یادونه وابسته دي. کوم کوم اسلامي وروڼړه چې په خبرو کښې شریک وو اَلْحَمْدُلِلّٰه هغوئې ټولو د غیبتونو کولو او اوریدلو نه توبه اوکړه.

## عیب بیانول غیبت دے او نه هُم دے

اے عاشقان رسول! د بیان شوي حکایت نه ډیره ښه اندازه لګولے شئ چې فضول خبرې کول څومره خطرناک وي ځکه چې غیبت پکښې اوشي او خبر هُم نه وي [چې غِیبت مو اوکړو]! په دې حکایت کښې یو نه بلکه دوه غیتونه وو، یو خو دا چې "دا عمارت ډیر زوړ دے" او د دې نه مخکښې کیدونکې خبره چې د دې په لفټ کښې پکے لګیدلےدے او د فلانکي په لفټ کښې A.C لګیدلے دے. که دا خبره هم مالکِ مکان واوري نو هغه باندې به بده لګي لهٰذا دا هُم غیبت دے. دلته دا وضاحت کووم چې که د بدئ بیانولو څه صحیح مقصد وي مثلاً په عمارت کښې فلیټ په کرائے باندې اخستل وو او په دې ضمن کښې دا خبره اوشوه چې دا عمارت زوړ دے او په لفټ کښې هم صرف پکے لګیدلے دے، فلانکے عمارت ښه دے د هغې په لفټ کښې هم A.C دے، ځئ چې هُغه فلیټ بُک کړو. نو دا د ګناه والا

غيبت نه دے. او که د يو صحيح مقصد نِيَّت نه وي بس هسې د چا عيب يا د هغه د ځه خيز خرابي ئې پشي شا بيان کړه لکه څنګه چې نن صبا د اکثرو خلقو عادت دے نو دا د ګناه نه ډک غيبت دے او مذکوره حکايت کښې هم هسې د فضول تر تر په طور بغير د څه مقصد نه د عمارت عيبونه بيان کړے شو لهٰذا هغه دواړه خبرې به د ګناه نه ډک غيبتونه شميرلے کيږي.

## دعائے عطار

ياربِّ مصطفٰے! زمونږه بےحسابه بخښنه اوکړې، يا **الله** پاکه! زمونږ ټول ګناهونه معاف کړې، يا **الله** پاکه! مونږ د غيبتونو، تهمتونو، چغليانو، بدګمانيانو، او د زړهٔ ازارولو او د هر قسمه ګناهونو نه اوساتې، يا **الله** کريم! مونږ پاخه لـمونځ ګُزاره او د سُنَّتو پابند، په نيکو اعمالو عمل کوونکي او د مدني قافلو مسافران جوړ کړې. يا **الله** پاکه! مونږ ته د دعوت اسلامي ديني ماحول کښې استقامت رانصيب کړې. يا **الله** پاکه! زمونږ د خوږ آقائے کريم، مکّي مَدَنی مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږ اُمَّت بخښنه نصيب کړې.

خدا یا اَجل آ کے سر پر کھڑی ہے — دِکھا جلوہ مصطفٰے یاالٰہی
مسلماں ہے عطّارؔ تیری عطا سے — ہو ایمان پر خاتِمہ یاالٰہی

(وسائلِ بخشش،ص105،106)

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد
تُوبُوْا إِلَى الله! — أَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کیدونکي د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربِیَت د پاره مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فِکرِ مَدِینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په ښکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)


UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com